سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۰۱/۰۱

# نوی کال او نوی ...

هرکال چې نوی کیږی، دلته غم هم نوی کیږی
د ولس په هر یو کلی کی، ستم هم نوی کیږی

ګلځانګي نوی کيږي، ګل غوټی نوی جوړيږی
د وریځـو ژړا ګانــي او شبنم هـم نوی کیږی

راځـي په نورو خلکو هـم غمـونه نوی نوی
زخمونه که شی نوی، نو مرهم هم نوی کیږی

هر نوی کال لری، ځان سره نوی ارزو ګانې
نیمګړي چې ارزوکا، چل او چم هم نوی کیږی

همدا مو نیمګړتیا ده، چې تدبیر نشته د چارو
رانوی چې هرکال شی، نو ماتم هم نوی کیږی

خو خیر دی کلیواله ، اندیښني نه دی په کار
که ستونزي نوی کیږی، نو قلم هم نوی کیږی

اړتیا ده زمانــي سـره، د فـکر د نـوښـت
د فـکرد نـوښت سره، صنم هم نوی کیږی

تورنتو ـ کانادا ۲۰۱۸/۱۲/۳۰

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چې د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولي، نو کولای سی چې، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالي او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com